# د سوهېلي پښتونخوا په نظم کي موضوعاتي جدت

# Thematic modernism in the Pashto poem of southern Pashtoonkhwa

محمد نسیم افغان*


## Abstract:

Modernism in literature or modernist literature, originated in the late 19th and early 20th centuries and is characterized by a self-conscious break with traditional ways of writing in both poetry and prose fiction writing. The genre that has got the most fame after the Pashto Ghazal in the poetry of Pashto is the Pashto poem. In the seventh and eighth decade of the 20th century, the thought of modernity influenced Pashto Poems in Southern Pashtoonkwa (Balochistan) as well, symbolic and abstract poems were created. The characteristics of modern poems have been determined in the light of the trends, literary movements and styles of expression that modern poems has taken from the beginning of its existence till today. In this research article, South Pashthern Khwa (Balochistan) poetry has been critically evaluated in the light of modern trends. And the trends that are considered trendy are highlighted in detail.


**Keywords**: Pashto Poems, Modernism, modernist literature, prose fiction, genre, modern trends, Scientific inventions.

جدت و نوښت او نوي والي ته وایي، په نظم کي د موضوعاتي جدت څخه مراد هغه رجحان دی چي شاعر په خپل نظم کي د موضوع له پلوه جدت یا نوی والی راولي، د جدت اصطلاح د روایت په مقابل کي راغلې ده، یعني خپل لیک یا نظم له قدامت پسندۍ یا له زاړه روایتي افکارو او موضوعاتو څخه ژغورل، په نوي انداز، نوې لارې په موضوع کي ټاکل او خپل نظمونه پر جدیدو یا نوو موضوعاتو باندي لیکلو ته د نظم موضوعاتي جدت ویل کېږي، د پښتو تکړه لیکواله ډاکټر سلمی شاهین په دې هکله داسي لیکي:

"جدید یا جدت د زوړ په مقابله کي یا د زاړه روایاتو په ضد یا د زړو اصطلاحاتو په ځای نوی فکر، نوی سوچ، جدید شعور ته د اظهار نوی او موثره ذریعه ورکوي چي د مخکي تلو توان لري، یا ژوندي پاته کېدای شي، ځکه چي

* Assistant Professor, Government Degree College, Ziarat, Balochistan

په زړو روایاتو یا زړو اصطلاحاتو کي د نوي زمانې د تقاضو مطابق د وړاندي تللو توانايي یا طاقت نه وي" (1).

لکه څنګه چي د انسان ژوند مخ په وړاندي روان دی او د انساني فطرت تقاضا ده چي هر نوی شی نړۍ ته راشي نو انسان یې د زړو شیانو په مقابله کي قبلوي، یعني انسان د خپل ثقافتي او عصري تقاضو مطابق په ژوند کي بدلون راولي دغه رنګه د ادبي اصطلاح په توګه د جدید، جدت یا جدیدیت مفهوم د هري زمانې یا د هر دور د تقاضو سره سم بدلېږي او د زاړه پر ځای نوي رائي، دغه بدلون د فارم په لحاظ، د فکر په لحاظ یا د مضامینو په لحاظ هم کېږي، ولي چي د جدید یا جدیدیت تېرې و پاس د وخت یا زمانې سره تړلی دی، د وخت یا زمانې د جدت انحصار په تهذیبي ثقافتي او ټولنیزو لارو چارو باندي وي، سماجي او تاریخي شعور، علم، پوهه، تجربې، احساس او عقل په هر دور کي جدت د نوي حقیقت په لټون یا د ادبي تکمیل په غرض د پر مخ تللو لاري هواروي، ځکه په لیک، شاعري، ژوند، ادب، ثقافت او تهذیب کي جدت نه ختمېدونکې سلسله ده، په ادب کي هم نوې تجربې، کوشش، هڅي د تخیل لاره روښانه کوي، او نوي حقیقتونه پیدا کوي، ولي چي زړې تجربې او زاړه حقیقتونه د ژوند او ادب نوې تقاضې نه پوره کوي، ځکه جدت د نوي ژوند او ادب دواړو ضرورت دی، هم دغه وجه ده چي لیکوال او شاعر په خپل لیک او کلام کي د نوي اسلوب په وسیله د نوې لاري ټاکنه کوي او له زړو روایاتو څخه ډډه کوي، او دغه رنګه د انساني ژوند او فکر په غوره توګه ترجماني کوي او د عصري یعني د نوي وخت او حالاتو سره سم په ټولنه کي د شعوري بدلون هڅه کوي.

د شاعري د نورور اصنافو په رنګه نظم هم د نوي دور د انسانانو ترجماني کوي او د عصري غوښتنو او ضروریاتو مطابق فکري بڼه او نوي موضوعات خپلوي او د ژوند د حقیقتونو ترجماني کوي، د نوي دور پر غوښتنو، ضروریاتو او تقاضو پوره ختلو موضوعاتو باندي لیکنه موضوعاتي جدت بلل کېږي.

د سوهېلي پښتونخوا پر نظم که نظر واچوو نو دا څرګندېږي چي د فکر او فن نوي رجحانات یې خپل کړي دي او د هر وخت او تقاضو مطابق یې فکري او فني اظهار کړی دی، او د فکر او فن نوي چوکاټونه یې خپل کړي دي او پر نویو

موضوعاتو یې نظمونه لیکلي دي، نوي اصطلاحات یې په تخلیق کي ګډ کړي دي، ډېرو حساسو مسئلو ته یې د ټولني پام په جدید انداز او فکر رااړولی دی، هم دغه جدت، نوښت یا نوی والی دی، په نظم کي د موضوعاتي جدت څخه مراد هغه نظمونه دي چي د جدیدو شیانو، جدید ساینسي آلاتو، جدید دریافت شوي شیانو او جدید ساینسي کرشمو، او د جدیدو ضروریاتو په اړه لیکل شوي وي، دلته چي مو د کومو نظمونو انتخاب کړی دی هغه دا دي:

| شاعران | نظمونه |
|---|---|
| ډاکټر عبدالرووف رفیقي | (۱) ټیلیفون: |
| عارف تبسم | (۲) فېسبوك: |
| سهېل جعفر | (۳) وېلنټاین ډې |
| سهېل جعفر | (۴) لو مېرج: |
| ډاکټر عصمت دراني | (۵) بریکنګ نیوز: |
| ډاکټر عصمت دراني | (۶) د سایرن اواز: |

(۷) تکتو د غره لمن: یوسف ساحل

د ډاکټر عبدالرووف رفیقي نظم "ټیلیفون" داسي موضوع ده چي هم نوې او ځانګړې ده او هم د اولس د هر وګړي تعلق ورسره ی، ټیلیفون یعني موبایل چي ډاکټر صاحب د نظم موضوع ګرځولی دی، د جدید او نوي وخت داسي شی دی چي له اهمیته یې انکار نه شي کېدای، په اوسني او جدید وخت کي د نړۍ په هر ګوټ کي که نر وي که ښځه، که زوړ وي که ځوان، که پېغله وي که ځلمی، که خوار وي که ودان، که وار وي که پړ، خو د موبایل سره یې خامخا کار او واسطه ضرور وي، په نوي او اوسني وخت کي موبایل تقریباً و هر کور او وګړي ته رسېدلی دی، یو د بل سره حال و احوال کول، د خپلو قریبانو، عزیزانو، دوستانو، ملګرو او په کاروباري لحاظ تعلق لرونکو سره حال و احوال کول او پښتنه ورسره کول، په ښه او بد خبرېدل، د وطن او نړۍ معلومات تر لاسه کول د موبایل کمالات دي.

د موبایل له لاري د فېسبوك، ټویټر، واټس اپ او ګوګل په وسیله د نړۍ د حالاتو د خبرتیا سره ادبي، سیاسي، ساینسي، علمي، دیني، مذهبي او نورو مختلفو علومو په هکله پوهنه تر لاسه کېدلای شي، د شغل د پاره فنون لطیفه،

ډرامې، فلمونه، داستانونه او میوزک کتل کېدای شي، له دې علاوه تر ډېرې زمانې پورې د خپلوانو، ملګرو، دوستانو سره د اړېکې ذریعه خط و کتابت وه، دغه رنګه د عاشق و معشوق او د دوو مینانو تر منځ د پیغام رساني ذریعه هم خط و کتابت یا ریبار وه خو په اوسني وخت کې دا کار هم موبایل تر سره کوي، د موبایل په ذریعه پیغامونه، خبرې او د زړهٔ خواله سره شریکوي، د ډاکټر عبدالرووف رفیقي صاحب "نظم ټیلیفون" هم په بنیادي توګه د مینې او محبت په حواله دی چې د خپل محبوب د ټیلیفون تنده په ډېر کرب سره بیانوي، یوه خوا د مخبوب ټیلیفون نه راتلل د مینې بې احساسي ګڼي او د ځوانۍ جذبه یې ټیټه بولي او بله خوا بیا مطمئن دی چې زما مینې به ضرور ځای ورباندې جوړ کړی وي خو دا به د شرم و حیا وجه وي چې ما ته فون وکړي، که خاندي که خوشالېږي خو زما و فون ته به په بې وسه او بې واکو سترګو ګوري، ډاکټر صاحب پر مخ زیاتوي چې زما د هیلو او ارمانونو چمن ستا د لهجې د هوا انتظار کوي، که ستا خبرې واورم نو زما سماعت به زیات شي ځکه ستا د ټیلیفون و ګنټۍ ته په ډېره تنده انتظار کوم، نو د جدید وخت د جدیدو آلاتو په ذریعه احساسات په دې نظم کې په داسې طرز بیان شوي دي چې د مینې احساسات، تلوسه او د دیدن تنده بیا هم پکې خپل منظر پېش کوي خو د ریبار یا خط پر ځای پکې جدیده وسیله یعنې ټیلیفون په کار شوی دی، د ډاکټر صاحب نظم:

**ټیلیفون**

"هیڅ یو احساس یې په سینه کې نهٔ شته
د درد له درده بې اشنا غوندې دی
نه څهٔ مرګې د انتظار وژلې
نه د امید نشاط حیات وربخښې
د ژوند ګرمي یې په هډو کې نهٔ شته
فقط د مینې د داستان پهلوان
ټیلیفون څهٔ د چا پر حال ژړلي
نه زړهٔ لري نه یې پر چا سوځلی
ته به هغسې ډوبه ډوبه خاندې
د زړهٔ په حال دي یو الله خبر دی

زړهٔ به دي کېږي چي زما په زړغ دي
ارمان ارام کړي او تسکين سېراب کړي
څومره بې واکه به و فون ته ګورې؟
په دوو بې واکو او بې وسو سترګو
پر تا به تاو وي د همځولو ټولی
پر تا به اوري د خنداوو باران
يې به ترلې د حيا په پړي
د شرم دروند ځنځير به ګېر وي پر تا
ستا د لهجې نسيم به کله نښلې؟
چمن د هيلو منتظر منتظر
يو بې قراره اشتياق په غورځنګ
ستا د خبرو د شکرو باران و اوروه
زما سماعت به بيا څپې څپې شي
زړهٔ بې قراره اورېدو ته غوږ غوږ
ستا د هيلو د حيات نخښې صدا
خو زهٔ به ناست څو انتظار لا کوم؟
په دې خوره وره چوپتيا کي ګراني
د ټيليفون د ګونګي شوې ګنتې"(2)

فېسبوک د ساينس د ايجاداتو او کرشمو څخه يو اهم ايجاد او کرشمه بلل کېږي، فېسبوک په جديد وخت يعني يويشتمه پېړۍ کي ايجاد شوی دی، ټوله دنيا يې يو نړۍ وال کلی جوړ کړی دی، ځکه فېسبوک د سوشل مېډيا يو اهم جز بلل کېږي، يعني فېسبوک ټوله دنيا سره پيوند کړې ده، د فېسبوک په ذريعه انسان خپل موقف، دريځ، اند او نظر له ټولي نړۍ سره شريکوي او د اظهار د ازادۍ تر ټولو اهمه ذريعه ده، د خبرونو سره سره ادبي، سياسي، علمي، ساينسي او مذهبي معلوماتو پرته د مختلفو علومو په هکله پوهنه تر لا سه کېدای شي، خپل شخصيت، خپل وان، د هغو حالت او داسي نور له دنيا سره شريکولای شي ځکه د سوهېلي پښتونخوا شاعرانو فېسبوک له پامه نه دی غورځولی، د ښاغلي عارف تبسم مختصر نظم فېسبوک د دې ثبوت دی، ښاغلی

تبسم د فېسبوك هغه اړخونه په ګوته کوي چې مخکې به چې به ما يو څۀ دردمن، خوږمن ليدل نو ما به مينه ورکوله، هغه به زما د څېرې او زۀ به د ده د څېرې په تاثراتو پوهېدم خو اوس فېسبوك د ساينس داسې کمال دی چې زما او د نړۍ تر منځ يې فاصله لنډه کړه، که يو څۀ خلګ را څخه لېرې شو خو ټوله نړۍ رانيزدې شوه ځکه ټوله ورځ و فېسبوك ته ناست يم ګورم يې او غمونه او دردونه دومره زيات دي چې زۀ حيران يم چې زۀ اوس مينه چا ته ورکړم، د ښاغلي تبسم نظم:

**فېسبوک**

"ما چې لوستې څېرې ښکلې
وم خبر په حال د زړونو
هم خبر وم په دردونو
هم خبر په ارمانونو
چې به کومه څېره لړ هم
څه دردمنه شوه معلومه
ارمانجنه شوه معلومه
ما به مينه ورکړه
خو د ساينس کمال ته ګوره
فاصله خو يې کړه لنډه
خو څېرې له ما شوې لېرې
ټوله ورځ فېسبوك ته ناست يم
دروغجنې څېرې لولم
نه په حال د زړۀ خبرېږم
نه د چا په غم دردېږم
زه به مينه چا ته ورکړم؟"(3).

وېلنټاين ډې (Valentine Day)د ښاغلي سهېل جعفر نظم دی، وېلنټاين ډې داسې نوې موضوع ده چې مخکې پر دې موضوع نظمونه مخ ته نه دي راغلي، وېلنټاين ډې هر کال پر ۱۴مه فروري د مينې و محبت د نړۍ والې ورځې په توګه لمانځل کېږي چې مېړه و ماينه يو او بل ته، هلك و نجلۍ يو او بل ته،

دغه رنګه مور، پلار، خور، ورور، زوی، لور، عزیز یا استاد ته د مینې و محبت د اظهار او همدردي د پاره یا د مینې د پخلي د پاره ګل یا تحفه ورکوي، په یوه مانا دغه عمل د مینې و محبت تجدید کول دي، که څهٔ هم په پښتني ټولنه کې دغه روایت او رواج د نشت برابر دی، په ډېره کمه توګه او خال خال شاید وجود لري خو بله خوا دا ورځ د اسلامي اصولونو خلاف ګڼل کېږي، ښاغلي سوهېل جعفر هم دغه وایي چې ته پښتنه یې او زهٔ هم پښتون یم د پښتنو خو وعده، لوظ او ټینګ اقرار تر دې کارونو ګلونو او تحفو څخه زیات دی، ځکه د دې ورځې د لمانځنې یا ګل او تحفې په شکل کې د مینې تجدید کول هیڅ ضرورت نهٔ شته، زموږ د لوظ، وعدې او د پښتو مقام تر دې ډېر لوړ او پوخ دی، د ښاغلي سهېل جعفر نظم وېلنټاین ډې نمونه:

وېلنټاین ډې (Valentine Day)

"ولې به کارډ دراستوم
ولې تجدید به کوم
ته پښتنه یې
زه پښتون یم ګلې!
زموږ اقرار، یو ټینګ اقرار
وعده، پخه وعده وي
موږ ته د دې ورځې لمانځنه
یا د مینې تجدید
هیڅ ضرورت نه لري"(4).

د لو مانا(Love) ده مینه او د مېرج(marriage) مانا ده واده، یعني د مینې واده، په بنیادي توګه هغه واده ته ویل کېږي چې کله هلک او نجلۍ سره مین شي او له مینتوبه پس په خپله خوښه او رضا واده سره وکړي، په لو مېرج کې د مور او پلار مرضي ضروري نه وي او کله کله د پښتنو د دود او دستور مطابق د کوزدې او واده رسمونه او مرحلې هم تر سره نه شي، لو مېرج په اوسني وخت کې په پښتنو کې هم څهٔ نه څهٔ رواج موندلی دی، ځکه ښاغلي سهېل جعفر د خپل نظم موضوع ګرځولی دی، په اصل کې سهېل جعفر په خپل نظم کې د نن سبا د محبوبا هغه بې وفایي، بې رُخي او دوه رنګي په ګوته کړې ده چې په ښکاره

ورسره بې کچه مينه کوي، ځکه يې سړی د ژوند ملګرې او د ځان ګڼي خو لو مېرج يعني د ميني واده به له بل چا سره وکړي، په بنيادي توګه له دې نظم څخه د نن سبا هغه بې ځايه مينه، د دروا‌غو وعدې او لوظونه، بې وفايي او دوه رنګي ښکاره کېږي، چي په ظاهره خو مينه او محبت وي لاکن په حقيقت کي هيڅ صداقت نه لري، د ښاغلي سهېل جعفر نظم:

لو مېرج(**Love marriage**)

"زه به اوس څۀ په ياد کړم؟
زه په څۀ فخر وکړم؟
چا ته به ذکر وکړم؟
څوک به يې ومني چي
ستا خو بې کچه مينه
صرف له ما سره وه
ولي چي ستا په هکله
هر يو سړی دا وايي
چي
لو مېرج وکړلو
هغې نجلۍ
چي تا د ځان ګڼله"(5).

په اوسني او نوي وخت کي که د ژوند په هر شي کي نوی والی او جدت راغلی دی، که نوي او جديد ساينسي آلات راغلي دي، هم دغه رنګه پر تېي وي باندي د خپرونو په انداز کي هم نوی والی، نوښت، جدت او بدلون راغلی دی، د خپروني په منځ کي چي ناڅاپه، نابېره او اچانک يوه خاص تازه او نوې خبره راشي نو خپرونه يا خبرونه مات شي، يعني هغه خپرونه يا خبرونه په منځ کي کټ يا پرې شي او هغه خاص تازه خبر نشر شي نو و دې ته بريکنګ نيوز ويل کېږي، نن سبا خو له بريکنګ نيوز سره هر انسان بلد دی، بيا په خاصه توګه پښتانۀ خو ېخي ورسره بلد دي، چي هر کله د دوستانو له خوا هم دغه پيغام ورکول کېږي جي تېي وي ولګوه، بله نوې پېښه شوې ده، بله واقعه او سانحه پېښه شوې ده، خلک ځغلي شور ماشور دی، ژړا، فريادونه، چيغي او واويلا ده، يعني تېي وي

هم د انسانانو غم او پرېشاني زیاتوي، د ټي وي په وسیله برېکنګ نیوز هر کله زموږ د بې سکونۍ او بې قرارۍ سبب ګرځي، او موږ له یوه سخت ذهني کرب سره مخامخ کوي، ښاغلی ډاکټر عصمت دراني هم په خپل نظم برېکنګ نیوز کې هم دغه ټولې خبرې داسې کوي:

**برېکنګ نیوز**

"ټي وي آن کړه!
یوه بله نوې واوره
یوه بله واقعه ده پېښه شوې
ډېره لویه سانحه ده پېښه شوې
خلګ ځغلي
دلې دورې خلګ ځغلي
شور ماشور دی واویلا ده
فریادونه دي ژړا ده
یوه نوې حادثه ده پېښه شوې
که بېزاره له خپل ځانه
له سکونه له امانه
پاڅه، کښېنه و ټي وي ته
ټي وي آن کړه
او د اوښکو و سېلاب ته مخامخ سه
اضطراب ته مخامخ شه"(6).

په اوسني وخت کې د انسان د پارولو د پاره ډېرې ذرایع او ډېر شیان وجود لري چې په دې کې یو اواز د ایمبولینس د سایرن اواز هم دی چې کله یې بني ادم واوري نو زړهٔ یې په درزا شي او بې قراره شي، او دغه خیالونه او سوچونه وهي چې بیا څهٔ ټکه لوېدلې ده، بیا چاودنه نه وي شوې یا څهٔ مرګ او ژوبله نه وي شوې، هم دغه فکر انسان په معلومات کولو حال و احوال کولو او خبرتیا تر لاسه کولو باندې مجبوره کړي، ځکه هغه دم ټي وي لګوي او موبایل هم ګوري، پر ټي وي کې هم دغه خبرونه وي چې انساني مرګ او ژوبله شوې ده، دغه حال چې څوک ګوري نو د انساني خواخوږۍ پر بنیا یې سترګې له اوښکو ډکې شي،

خوشالي ختم شي او د سړي ژوند په غمو بار شي او ورسره د موبایل پر پرده باندي ټوله ورځ ویر لړلي پیغامونه د انسان حوصله ختم کړي، او د زغم همت یې هم ختم شي، یعني دغه د سایرن اواز دي هم ورک شي خو چي تر څو مو په خپل وطن، ملت او ښارونو کي د بد امنۍ، ترهګرۍ، ظلم او زیاتوب لړۍ ختم کړې نه وي، اتحاد، اتفاق او ورورولي مو راوستلې نه وي تر هغو به زموږ له سترګو اوښکي ختم نه شي او زموږ زړونه به روغ او جوړ نه شي، هم دغه ټولي خبري ښاغلي ډاکتر عصمت الله دراني په خپل نظم "د سایرن اواز" کي داسي لیکي:

**د سایرن اواز**

"د سایرن اواز چي راشي
زموږ زړونه په درزا شي
هسي نه چي وي په ښار کي
کومه ټکه پر پېوتلې
پر میدان تې وي ته کښېنو
چي خبر شو له احواله
له احواله چي خبر شو
نو له سترګو مو جاري شي
د سرو اوښکو بارانونه
او بیا ټوله ورځ لګیا یو
د موبایل پر پرده ګورو
ویر لړلي پیغامونه
د سایرن اواز دي ورک شي
چي تر کومه وخته پوري
موږ او تاسو له دې ښاره
دا اواز نه وي ایستلی
نه به وچ شي زموږ کسي
نه به روغ شي زموږ زړونه"(7).

هر کله چي موږ په سوهېلي پښتونخوا کي د نظم ګو شاعرانو خبره کوو نو په ځوان کهول کي ښاغلی یوسف ساحل یو اهم نوم دی، دلته چي موږ د یوسف

ساحل پر کوم نظم خبره کوو د هغه سرلیک دی "تکتو د غره لمن کي" په بنیادي توګه د تکتو د غره له لمن څخه مراد د کوټې تاریخي ښار دی چي د تکتو د غره په لمن کي اباد دی، یوسف ساحل که څۀ هم په ښار کي د ځان د موجودګۍ او د تنهایي احساس راکوي، خو د نظم په اخري برخه کي د جدید ساینسي آلات کمپیوټر متعلق خبره کوي چي انسان له نورو انسانانو څخه ولېري والو ته نه پرېږدي، بلکې له ټول جهان سره یې منسلک یا تړلي ساتي، ښاغلی ساحل که د ژمي په یخ او واورین موسم کي له نړۍ څخه یک تنها دی خو د جدید دور یا اوسني وخت جدیدي اسانتیاوي او جدید آلات یې و تنهایي او یکړ والي ته نه پرېږدي، څۀ چي په دنیا کي کېږي هغه د کمپیوټر له لاري ویني، ځکه د ملګرو دوستانو او د نړۍ له حالاتو څخه باخبره دی، که څۀ هم په جسماني توګه له جهان څخه یکړ او تنها دی خو د کمپیوټر، فېسبوك او ټویټر له لاري د نړۍ وال کلي یعني (Globale Village) برخه دی، ځکه ورته هر څۀ ښکاري، یوسف ساحل په خپل نظم کي دا ټولي خبري داسي کوي.

**تکتو د غره لمن کي**

"ما و ژوند
سره په جنګ یو
یو مدار یو انجمن یو
سړه شپه
د ژمي یخ کي
د دې غرونو څوکي سپیني
په شېبو چي
واوري اوري
د وریځو په محل کي
خړو خاورو په بورجل کي
تنهایي سره محفل کي
تکتو د غره لمن کي
غلی ناست یم په برستن کي

د نړۍ د ګلوب څپو کې
حيراني ګوته په غاښ يم
کمپيوټر پر ښيښه باندي
ياران څارم
جهان وينم"(8).

**پايله**: د جدت په دې بحث کې موږ هغه جدت نه دی رااخيستی کوم چې په فکري حواله دی او د روايتي فکر يا رجعتي فکر په ضد يا فلسفيانه نوښت يا هغه نوښت چې د نورو ژبو په ادب کې راغلی دی، دلته زموږ مقصد تش د نوي دور ځيني نوي آلات ساينسي او نور چې په ادب کې يې ځنګه ځای نيولی دی او ژوند يې متاثره کړی دی نو له نظمونو څخه ښکاره شول چې په سوهېلي پښتونخوا کې پر داسي موضوعاتو نظمونه ليکل شوي دي چې د ساينسي ايجاداتو په تناظر کې مخ ته راغلي دي هغه هم شاعرانو په نظر کې ساتلي دي.

په دې باب کې موږ د سوهېلي پښتونخوا نظم له دريو څلورو اړخونو څخه وڅېړل چې په هغه کې فکري او شعوري اړخ شامل وو، لکه څنګه چې د يوې پر مختللې ژبې په نظمونو کې کوم مواد موږ ته په نظر راځي د سوهېلي پښتونخوا په نظمونو کې هم داسي مواد په پرېمانه توګه موجود دي، چې له ابتدا څخه واخلې بيا تر نوي کهوله پوري نظم په فکري حواله ډېر اوچت والی او ځانګړتياوي لري، هغه ځانګړتيا دا ده چې په فکري حواله د عصر سره سم فکري زاويې يې ځانګړتياوي لري، کوم چې د يوې ژبې او قام ضرورت دی او د عصر غوښتني وي، دا هر څۀ پکې جوت مقام لري، خو ځينو شاعرانو داسي نظمونه هم په ډېر تعداد ليکلي دي چې هغه تش نظمونه دي، يعني خبري يې نظم کړې دي، تقليد يې کړی دی، هغه ته موږ ځکه ځای نه دی ورکړی چې د هغوی تعداد ډېر دی.

د تحقيق په رڼا کې موږ دا ويلای شو چې په فکري حواله د سوهېلي پښتونخوا نظم د عصر او عصري غوښتنو سره سم پر مخ تګ کړی دی، نه يوازي دا چې په پښتو ادب کې يې يو جوت مقام پيدا کړی دی بلکې په نړيواله کچه که د دې نظمونو ژباړه وسي او فکري څېړنه يې وسي نو يقين وکړئ چې په نړيواله کچه به هم د يو ځلانده فکر لرونکي نظمونو په کتار کې ودرېږي.

***

# حوالې

(1) سلمی شاهین ډاکټر، جدید نظم په پښتو کې، جدون پرنټینګ پریس، کال ۲۰۰۳ء، ص9.

(2) رفیقي، عبدالرووف ډاکټر، له سپوږمۍ سره خواله، شرکت پریس لاهور، ۲۰۰۲ء، ص128.

(3) تبسم، عارف، مات ګامونه، پښتو ادبي ملګري لورالايي، ۲۰۱۳ء، ص54.

(4) جعفر، سهیل، د یاد په جزیره کې، یونائیټیډ پریس کوټه، ۲۰۰۴ء، ص164.

(5) ایضاً، ص106.

(6) عصمت دراني، ډاکټر، په دې کاڼو کې غمې دي، صحاف نشراتي موئسسه کوټه، ۲۰۱۸ء، ص339

(7) ایضاً، 332.

(8) (ساحل، محمد یوسف، 2019ء، فیسبوک)